**په افغانستان كي د ملګرو ملتونو د مرستي هيئت**

**د ویاند دفتر**
**کابل – افغانستان**

**تیلیفون:** ۶۱۲۱ ۲۹۷ ۲۰ ۰۰۹۳ – ۶۱۲۱ ۲۴ ۰۸۳۱ ۰۰۳۹
**بریښنا لیک:** spokesperson-unama@un.org
**ویب پاڼه:** www.unama-afg.org

**د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د خانګړی استازی ښاغلی کای آیده مطبوعاتی وینا د ملکی تلفاتو د رپوټونو په اړه د افغانستان په لویدیز کی**

تیره شپه ناوخته د هغه نا تایید شویو رپوټونو څخه خبر شوم چی ښایی یو شمیر دیر ملکی وګړي د نظامی عملیاتو په ترڅ کی د هرات ولایت د شین ډنډ په ولسوالی کی وژل شوي وي.

دا ډیره حیاتی مسله ده چی دا پیښه په بشپړه توګه وڅیړل شئ او په چټکتیا سره حقیقت وموندلئ شئ مخکی له دی څخه چی موږ او تاسو په دی اړه یوه نتیجه ته ورسیږو.

ملګرو ملتونو همیشه دا واضحه کړي ده چی ملکی تلفات په هیڅ ډول د منو وړ نه دي- دا کار د افغان ولس اعتماد و اطمینان په موږ باندی تر سوال لاندی راوړي.

ما خپل ولایتی دفتر ته په هرات کی لارښودنه کړي چی د ولایتی چارواکو سره دی هر ډول مرسته د حقیقت د موندلو د کار لپاره وکړئ.

هر ډول ملکی تلفات که څه هم یو وی بیا هم ډیر شمیر دی. هر کار چی ترسره کیدای شی، باید ترسره شی تر څو د ملکی وګړو د خوندیتوب څخه د نظامی عملیاتو په ترڅ کی ډاډ تر لاسه شئ.

کابل، د آګست د میاشتی ۲۳،